# د اسراء په شپه (یعنې هغه شپه چې اسمانونو ته پورته کړی شوم) له ابراهیم علیه السلام سره مخ شوم نو ویې ویل: اې محمده! خپل امت ته دې زما لخوا سلام ووایه او خبر یې کړه چې جنت پاکیزه خاوره او خوږې اوبه لري

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: « د اسراء په شپه (یعنې هغه شپه چې اسمانونو ته پورته کړی شوم) له ابراهیم علیه السلام سره مخ شوم نو ویې ویل: اې محمده! خپل امت ته دې زما لخوا سلام ووایه او خبر یې کړه چې جنت پاکیزه خاوره او خوږې اوبه لري او ځمکه یې ونې بوټې نه لري، او دا چې کښت یې: سُبْحَانَ الله، الحَمْدُ لِلَّه، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ او اللَّهُ أَكْبَرُ» دي.

[د شواهدو په اعتبار حسن دی] [الترمذي روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې هغه د اسراء او معراج په شپه له ابراهیم علیه السلام سره مخ شو، نو ورته یې وویل چې اې محمده! زما سلام دې امت ته ورسوه، او پوه یې کړه چې جنت ښایسته خاوره او خوږې اوبه لري چې مالګیني نه دي او دا چې جنت پراخه دی، ځمکه یې اواره ده ونې نه لري، او دا چې کښت یې پاکیزه کلمې دي هغه کلمې باقیات او صالحات دي، یعنې پاکیزه کلمې دي چې تر هغه پورې به په جنت کې وي تر څو چې ځمکه او اسمانونه وي او هغه دا دي: سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، نو هر کله یې چې یو مسلمان ووایي او تکرار یې کړي، په جنت کې ورته یوه (ونه) کرل کیږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3791

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee